د غیر بانکي مالي مؤسسو د څارنې لوی آمریت
آمریت عمومی نظارت از مؤسسات مالی غیر بانکی

گڼه: ۴۷۲۳
۲۰۵۹ الی ۲۰۱۹
نېټه: ۲۴/ ۴/ ۱۴۴۶
۱۴۰۳ / ۸/ ۶

DA AFGHANISTAN BANK

د افغانستان بانک

---

بسم الله الرحمن الرحیم

د صرافیو او پولي خدمتونو محترمو اتحادیو ته!

السلام علیکم و رحمة الله و برکاتهُ،

**ماهیت: متحدالمال**

**موضوع: د ځانګړي بازار د رامنځته کولو په اړه**

له ډېر درناوي وروسته؛

د صرافیو او پولي خدمتونو بازارونو کې د اسعارو نرخ په دوديزه ډول په غیر منظمه توګه په یو ځانګړي ځای کې چې د بولي په نوم مشهور دي؛ ټاکل کیږي د معلوماتو پربنسټ، په یاد بازار کې د مجوزو صرافانو تر څنګ، لاسي پلورونکي صرافان او نور اشخاص هم ګډون کوي چې له کبله یې بې نظمي رامنځته او د نرخونو ټاکل اغیزمن کېدای شي. پردې بنسټ، د افغانستان بانک د مالي سکتور د تنظیمونکي او مسئولي اداري په توګه لازمه وګڼله چې د یاد بازار اهمیت ته په کتو او د یو شمېر اتحادیو مسئولینو سره په همغږۍ، یو لړ شرایط ترتیب او د اړونده اتحادیو له لوري د تبادلې ځانګړي بازار تر سرلیک لاندې تنظیم او ذکر شوي شرایط دي پلې شي.

**الف: د اسعارو د نرخ ټاکلو ځانګړي بازار جوړښت او شرایط**

۱. د صرافیو او پولي خدماتو په هر یوه مارکیټ کې د لاندې شرایطو مطابق ذکر شوی بازار رامنځته کېدای شي:
   - هغه مارکیټ چې د ولایت په کچه پولي فعالیتونو کې مرکزي رول ولري؛
   - ډېر شمېر صرافۍ او د پولي خدمتونو شرکتونه یاد مارکیټ کې فعالیت ولري؛
   - ذکر شوي مارکیټ کې د صرافانو او پولي خدمتونو اتحادیه شتون ولري؛ او
   - نور اړوند شرایط چې د افغانستان بانک یې لازم وګڼي.
۲. په هر یوه ولایت کې یوازې یو پورته ذکر شوی بازار رامنځته کېدای شي.
۳. د اسعارو د نرخ ټاکلو په ځانګړي بازار کې پرته د بانکونو او د صرافیو شرکتونو معرفي شویو استازو څخه بل هیڅ غړی او شخص نشي کولای چې ګډون وکړي؛
۴. د صرافۍ او پولي خدمتونو شرکتونه او بانکونه کولای شي چې دوه استازي د افغانستان بانک ته معرفي او په یاد بازار کې په یو وخت کې د معرفي شویو استازو څخه یوازې یو استازی/نماینده ګډون کولای شي.
۵. په یاد بازار کې د صرافیو او پولي خدماتو شرکتونو استازي (نماینده) د خپل شرکت په استازیتوب او د بانکونو استازي د خپل بانک په استازیتوب معاملې تر سره کولای شي.

---

د افغانستان بانک، ابن سیناوات، کابل افغانستان/ تیلیفون۲۱۰۴۷۶۱ (۲۰) ۹۳ ۰۰۹۳/ ایمیل: @dab.gov.af
ټولنیزې شبکې فیسوک - د افغانستان بانک / تویټر - @AFGCentralbank / انستاګرام

۶. په دې بازار کې معاملې په ښکاره، روښانه او د عرضه او تقاضا پر بنسټ تر سره کیږي. انحصار کول، د نرخ په اړه همغږي او د ډلو جوړول منع دي.

۷. په دې بازار کې نغدي راکړه ورکړه نه ترسره کیږي. ټولې پولي معاملې په یاد بازار کې د تفاهم څخه وروسته د اړونده شرکتونو د بانکي حسابونو او یا هم په دفترونو کې ترسره او تصفیه کیږي.

۸. د هر بانک او د صرافۍ او پولي خدمتونو شرکتونو استازي باید د یو ځانګړي کارت درلودونکي وي او یاد کارتونه د اتحادیې له لوري صادریږي.

۹. یاد ځای (بازار) ته د پورته ذکر شوي کارت څخه پرته ننوتل منع دي او هر یو ګډون وال/د بازار غړی باید تل په یاد ځای کې خپل کارت له ځان سره ولري.

۱۰. هغه بانک او د صرافۍ او پولي خدمتونو شرکتونه چې په یاد بازار کې استازی لري، اړ دي چې د خپل استازي ځانګړتیاوې د غیر بانکي مالي مؤسسو د څارنې آمریت سره شریکې کړي.

۱۱. په یاد بازار کې پرته د اسعارو د تبادلې څخه بل هیڅ مالي او تجارتي معاملې ترسره کېدای نشي.

۱۲. د ولایاتو په کچه د صرافۍ او پولي خدمتونو شرکتونو ځانګې (نمایندګي) کولای شي چې په یاد بازار کې د اړونده شرایطو په رعایت کولو سره، ګډون وکړي.

**ب: د صرافیو او پولي خدمتونو د اتحادیو مسئولیتونه**

۱. د اسعارو د نرخ ټاکلو ځانګړي بازار د چارو تنظیم په هر یوه ولایت کې د اړونده اتحادیې له لارې تنظیمیږي.

۲. د اړونده اتحادیې له لوري دې د یاد بازار لپاره ځای وټاکل شي. په یاد ځای (بازار) کې دې هغه آسانتیاوې چې ګډون کونکي ورته اړتیا لري، د اتحادیې لخوا تنظیم او برابر شي.

۳. د اسعارو د نرخ ټاکلو ځانګړی بازار دې په هر یوه ولایت کې یو سکرتریت ولري او د اړونده اتحادیې له خوا دې جوړ شي. یاد سکرتریت دې د اداري چارو د تنظیم او د تعین شوي نرخ د ثبت او نشر مسئولیت ولري.

۴. سکرتریت اړ دی چې د راکړې ورکړې د نرخ تغییرات او د معلاملو ترسره کوونکي په دوامداره توګه ثبت کړي.

۵. سکرتریت اړ دی چې د اسعارو د راکړې ورکړې نرخونه د نشرولو برېښنایي تختې (اسکرین) له لارې چې د اسعارو د نرخ ټاکلو بازار څخه بهر خلکو ته د لیدو وړ وي، په دوامداره توګه نشر کړي.

۶. د ګډوډۍ څخه د مخنیوي لپاره؛ هره یوه اتحادیه اړه ده چې په اړوند او نورو مارکیټونو کې د تبادلې لپاره تر هر سرلیک لاندې راغونډ شویو صرافانو او اشخاصو په اړه لازم اجراآت ترسره او په اړه یې د افغانستان بانک ته هم راپور ورکړي.

۷. د سرای شهزاده اتحادیه اړه ده چې د نورو اتحادیو سره په همغږۍ د اسعارو د نرخ ټاکلو ځانګړي بازار د تنظیم او د ګډون کوونکو لپاره د شرایطو په اړه کرنلاره ترتیب او د افغانستان بانک سره یې د تائید لپاره شریکه کړي.

**ج: د اسعارو د نرخ ټاکلو ځانګړي بازار د غړو یا ګډون کونکو مسئولیتونه**

۱. د بازار د تنظیم او د اړتیاوو لګښتونه دې د ګډون کوونکو له خوا ورکول شي.

۲. هیڅ یو صراف او د اسعارو د نرخ ټاکلو ځانګړي بازار غړی/ګډون کوونکی، حق نلري چې د اسعارو د راکړې ورکړې نرخ نشر کړي.

۳. د ټاکل شوي ځای (بازار) څخه پرته، نور څوک حق نلري چې په مارکیټونو کې راغونډ او یاد بازار تر سرلیک (عنوان) لاندې دغه شان فعالیتونه ترسره کړي.

د افغانستان بانک، ابن سیناوات، کابل افغانستان/ تیلیفون۲۱۰۴۷۶۱ (۲۰) ۰۰۹۳/ ایمیل: af.
ټولنیزې شبکې فیسوک - د افغانستان بانک / تویټر - @AFGCentralbank /

په دې توګه، د صرافیو او پولي خدمتونو ټولې اتحادیې ته دې چې په دې برخه کې د اتحادیو مسئولیتونو د ۷ شمېرې مطابق لومړی دې د سرای شهزاده اتحادیې له لورې د اړونده نورو اتحادیو سره په همغږۍ، عمومي کړنلاره د ۱۵ ورځو په اوږدو کې ترتیب او د افغانستان بانک د تائیدۍ څخه وروسته؛ د پورته نورو شرایطو مطابق او یادې کړنلارې په پام کې نیولو سره په هر زون او ولایت کې چې اړتیا وي، اړونده اتحادیې دې د یاد بازار د رامنځته کولو په موخه لازم اجراآت ترسره کړي.

په درنښت

نور احمد آغا

**د افغانستان بانک د ټولو سرپرست رئیس**